استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

سرودهٔ از رحمان بابا( ۱۶۳۵-۱۷۱٤)

شنبه ۱٤ می ۲۰۲۲

# ښکلي خلک



خدایه څه شول هغه ښکلی ښکلی خلک

په ظاهر په باطن سپین سپیځلی  خلک

هیڅ خندا مي له دی خلکو سره نشی

ژړوی مي هغه تللي تللي خلک

خبر نه یم چي وکومه خواته ولاړ شول

لیده نه شي هغه ما لیدلي خلک

لکه څک چي د اوبو په مخ کي درومي

هسي درومي په جهان راغلي خلک

دریغه یو ځلي خو بیا په جهان راغلی

له جهانه په ارمان وتلي خلک



salamwatanam@gmail.com